مولوی زین الله منلی ۰۱/۱۰/۲۰۱٤

امام فخر الدين رازي
(له التفسير الكبير څخه)

دويم برخه

شاهدانو ته به د شاهدۍ ورکولو او يا د شاهدۍ د نه ورکولو تلقين نه کوي. په دې دواړو خصمينو کې به يو نه مېلمه کوي چې هغه بل مېلمه نه کړي، ځکه چې دا کار د هغه بل خصم زړه ماتوي او په خصمينو کې دې د کوم يو نه مېلمه کېږي، تر څو پوري چې دوی متخاصمين وي دا حاکم به د دوی نه مېلمه کېږي.
کله به چې رسول الله صلی الله عليه وسلم کوم خصم مېلمه کاوه نو هغه بل به يې ور سره هم مېلمه کاوه، مطلب دا دی چې دا حاکم به حق حقدار ته ور رسوي او دا حکم به پر کوم بل عرض نه ککړوي او همدا د الله تعالی د دې قول مراد دا دی لکه چې وايي: واذا حكمتم بين الناس ان تحكمو باالعدل. (چې د وګړو ترمينځ حکم کوئ، نو په عدل يې وکړئ!)
۴- څلورمه مسئله: الله تعالی وايي: واذا حكمتم بين الناس ان تحكمو باالعدل. د الله په دې خبره تصريح ده چې هيڅوک حق نه لري چې له ځانه شريعت جوړ کړي او په دې شريعت حکم وکړي، بلکه دا حق ځيني پوهان لري، نور نو ايت مجمل پا ته شو چې څرنګه يو څوک حاکم کېدای شي؟ کله چې ټولو دلايلو پر دې باندې دلالت کړی دی چې اسلامي امت اړ دی چې ارومرو يو امام اعظم ولري او دا امام اعظم هغه دی چې په ښارونو کې قاضيان او واليان ټاکي.
بيا الله تعالی ويلي دي چې : ان الله يعظكم به. يعنی هغه شی چې الله يې تا سو ته د کړنلارې په توګه در ښيي ډېر ښه دی،دا شی مأموربه دی، چې دا مأموربه د اماناتو ورکړه او عدل دی.
بيا يې ويلي دي: ان الله كان سميعآ بصيرا. يعنی د الله په امر او وعظ عمل وکړئ، ځکه دی پر مسموعاتو او مبصراتو ډېر ښه عالم دی. تا سو ته به ستاسو د عملونو جزاء او بدل در کړي او په دې آيت کې يوه بله دقيقه خبره هم شته، هغه دا چې الله تعالی په دې آيت کې پر عدل کولو او د امانتونو په ورکړه خبرې کړي دي. که تا امانت اداء کړ نو دی بصير دی د ټولو مبصراتو او دا مبصرات ګوري او په دې کې شک نه شته چې دا مطيع ته د وعد يو لوی سبب دی او عاصي ته د وعيد لوی سبب دی. دې ته رسول الله داسي اشاره کړي ده: اعبدوا الله كانک تراه فان لم تكن تراه فانه يراک. (د الله داسي عبادت کوئ لکه چې الله ګورئ که تاسو الله تعالی ته نه ګورئ نو هغه خو تاسو ګوري).
دلته يوه بله دقيقه خبره هم شته او هغه دا چې کله چې د بنده احتياج او اړتيا ډېره ده هغومره ور سره د الله عنايت او مهرباني هم ډېره ده او د قاضيانو او واليانو د احکامو پوري د بندګانو مصالح او ښېګڼې تړلي دي. نو د دوی احکام ډېر مهم دي، الله په ابصار د مبصراتو کې او په اسماع د مسموعاتو کې له غفلت کولو او سهوې او تفاوت څخه منزه او پاک دی.
الله تعالی خپلو بندګانو ته په ژوندانه کې د ستونزو د اوارولو له پاره ډېرې ښې او رڼې لارې ښودلې دي، لکه چې وايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً - سورت النساء ۵۹ آيت. (ای مؤمنانو! د الله ومنئ او د رسول او اولوالامر ومنئ، که ستاسو په مينځ کې په کوم څيز کې شخړه او ستونزه پيښه شوه نو د دې ستونزې اوارى له الله او رسول څخه وغواړئ) يعنی کتاب او سنت ته مخه کړئ، که تاسو مؤمنان ياست پر الله او د آخرت په ورځ د الله کتاب او سنت ته مخه کول ستاسو له پاره ډېر ښه دي او پايله يې ګټوره ده.
کله چې الله تعالی په رعيت کې قاضيانو او واليانو ته په عدل کولو امر کړی دی، په همدې راز يې رعيت او وګړو ته هم امر کړی دی چې د قاضيانو او واليانو اطاعت وکړئ او احکام يې ومنئ. نو وايي:
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ. (ای مؤمنانو د الله ومنئ!) همدا ده چې علی کرم الله وجهه ويلي دي: حق على الامام ان يحكم بما انزل الله ويؤدى الامانة فا ذا فعل ذلک فحق على الرعية ان يسمعو او يطيعوا. (پر امام باندې حق دی چې پرما انزل الله باندې حکم وکړي او وګړو ته امانت ورکړي، چې داسي يې وکړل نو پر رعيت او وګړو واجب دی چې د امام حکم واوري او ويې مني.)
په دې آيت کې څو مسئلې راغلې:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۱ - لومړی مسئله دا ده چې معتزله وايي چې اطاعت د ارادې موافقت ته وايي او زموږ لويان عالمان وايي چې طاعت له امر سره موافقت ته وايي. د ارادې موافقت ته زموږ دليل دا دی چې په دې کې خو کومه نزاع نه شته چې طاعت د امر موافقت ته ويل کېږي. خو نزاع په دې کې ده چې د مامور به مرادول واجب وي او که نه؟ کله چې موږ دليل ووايو چې کله کله به مامور مراد نه وي نو په دې حال کې دا ثابته ده چې طاعت له ارادې سره موافق نه دی. خو موږ وويل چې الله کله کله پر هغه څيز امر کوي چې هغه څيز د ده مراد نه وي، ځکه چې علم د الله او خبر د الله دواړو په دې تعلق نيولی چې ابولهب ايمان نه راوړي او دا علم او خبر نه زايله کوي، د دې دواړو انقلاب جهل دی او د ايمان وجود له دې علم او خبر سره تضاد لري او د ضدينو تر مينځ جمع محاله ده. نو له ابو لهب څخه د ايمان صدور محال دی او الله په دې ټولو احوالو عالم دی، نو په دې هم عالم دی چې د ابو لهب ايمان راوړل محال دي او علم په دې چې دا څيز محال دی هغه مراد کېدای نه شي. نو دا ثابته ده چې الله د ابولهب د ايمان اراده نه لري او حال دا دی چې ورته يې په ايمان راوړلو امر کړی دی. دلته دا ثابته ده چې امر کله کله بې له ارادې څخه هم موجودېدای شي او چې دا ثابته شوه نو دا يقيني شوه چې د الله طاعت د امر موافقت ته ويل کېږي، نه د ارادې موافقت ته او دليل يې د شاعر دا قول دی:

رب من انضجت غيظاً صدره

قدتمنی لی موتاً لم يطع

(ډېر ځله د يو چا زړه له غيظ څخه اور اخيستی دی او زما مرګ غواړي خو دا هيله يې نه ده منل شوې)

د دوی ځواب دا دی چې هر عالم پوهېږي چې دليل خو هغه دی چې موږ يې يادونه وکړه. چې د دې دليل معارضه د دوی د دې کمزوري دليل په واسطه نه شي کېدلی.

۲- دوهمه مسئله دا ده چې په دې مبارک آيت کې د اصول الفقه د علم دلايل راغلي دي او دا ځکه چې فقهاء وايي چې د شريعت اصول څلور دي: کتاب، سنت، اجماع او قياس.

په دې آيت کې د دې څلورو واړو دلايلو يادونه شوي ده. په دې توګه چې کتاب او سنت ته د الله په دې قول کې اشاره شوي ده چې وايي: اطيعوا الله و اطيعو الله الرسول. (د الله ومنئ او د رسول الله ومنئ).

که وويل شی چې د الله په منلو کې ګوندي د رسول الله منل راځي؟ که راځي نو دا عطف څه معنی لري؟

په دې ځواب کې قاضي ويلي دي، چې د دې عطف فايده داده چې په دوه دلينو دلالت کوي. کتاب د الله پر امر دلالت کوي بيا وروسته ور څخه موږ د رسول الله پر امر هم پوهېږو او سنت د رسول الله د امر پر منلو دلالت کوي، بيا وروسته ورڅخه د الله پر امر هم پوهېږو، نو له دې څخه دا څرګنده ده چې پر کتاب او سنت دواړو عمل کول واجب دي.

۳- دريېمه مسئله دا ده چې د الله تعالی دا قول واولی الامر منکم. زموږ په نزد پردې دلالت کوي چې د امت اجماع هم يو حجت دی. دليل يې دا دی چې الله په کلکه د اولوالامر د امر منل واجب کړي دي او دا چې الله د اولوالامر منل واجب کړي دي دا د دې دليل دی چې دا اولولامر به معصوم وي له خطاوو څخه ځکه چې که له خطاوو څخه معصوم نه وي او الله يې په متابعت امر کړی وي نو دا د يو خطا کار په متابعت امر دی او حال دا دی چې د خطا کار متابعت منهي عنه دی نو دا په يو کار باندې د امر او نهی امر دی چې دا محال دی. نو دا ثابته ده چې د اولوالامر په اطاعت باندې الله بالجزم امر کړی دی او دا هم ثابته ده چې د چا په اطاعت الله بالجزم امر کړی وي، واجب ده چې دا شخص به معصوم عن الخطاء وي نو دا ثابته ده چې په دې آيت کې کوم اولوالامر راغلی دی هغه معصوم عن الخطاء دی.

اوس وايو چې دا معصوم به يا ټول امت وي او يا به ځيني امت وي. دا جايزه نه ده چې ځيني امت شي ځکه چې دې آيت کې په قطعي ډول د اولوالامر اطاعت واجب کړای شوی دی او د دوی د اطاعت ايجاب په قطعي صورت سره په دې پورې مشروط دی چې موږ دا اولوالامر وپېژنو او خپل ځان ده ته ورسولای شو او استفاده ورڅخه وکولای شو. موږ پوهېږو چې په دې زمان او مهال کې موږ د اولولامر له پېژندلو او ورته د ور رسېدلو او ورڅخه د استفادې کولو څخه عاجز يو او له دوی څخه د دين او علم استفاده نه شو کولای.

چې خبره داسې ده نو موږ پوهېږو چې هغه معصوم چې الله د ده د اطاعت امر کړی دی ځيني امت نه دی او نه کومه خاصه طايفه ده. اوس نو دا خبره يقيني ده چې دا معصوم به اهل حل او عقد وي او دا په قطعي توګه واجب ده چې د اهل حل او عقد اطاعت د امت په اجماع سره واجب دی.

که وويل شي چې مفسرانو ستاسو له خبرو پرته د اولوالامر په باره کې نور وجوه بيان کړي دي.

- يوه وجهه يې دا ده چې مراد له اولوالامر څخه خلفای راشدين دي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- بله وجهه دا ده چې مراد له اوالامر څخه د سرا یاوو امیران دي. په دې اړه سعید بن جبیر ویلي دي: دا آیت د عبدالله بن حدافه السهمی په باره کې نازل شوی دی ځکه چې رسول الله د یوې سریې د امیر په توګه استولی ؤ او ابن عباس وایي چې دا آیت د خالد بن ولید په باره کې نازل شوی دی چې رسول الله د یوې سریې د امیر په توګه لیږلی ؤ چې عمار بن یاسر هم همدغه سریه کې ؤ. نو د دوی دواړو ترمینځ په یو څه کې اختلاف واقع شو، نو دا آیت نازل شو چې د اولوالامر خبره او نظر باید ومنل شي.
- دریمه وجهه دا ده چې له اولوالامر څخه هغه علما مراد دي چې د شریعت به احکامو کې فتوی ورکوي او وګړو ته دین ور زده کوي. دا روایت د ثعلبي دی چې له ابن عباس څخه یې دا روایت کړی دی او همدا د حسن او مجاهد او ضحاک قول هم دی.
- څلورمه وجهه د روافضو ده چې مراد له اولوالامر څخه معصوم امامان دي.
کله چې د دې آیت په تفسیر کې په دې څو وجوهو کې محصور دی او د حل او عقد وجهه له دې څلورو وتلی ده چې غونډې پنځه وجهې کېږي. نو دا باطله ده چې مراد د ځینو علماؤ اجماع ده.
دوهم سوال دا دی چې ووایو چې مراد له اولوالامر څخه امیران او سلاطین دي، چې په دې خبره څو وجوه دلالت کوي.
۱- لومړی وجهه: د امیرانو او سلاطینو امرونه پر وګړو نافذ دی، نو په حقیقت کې هم دوی او لوالامر دي، خو د اهل اجماع اوامر پر وګړو باندې نه چلېږي. نو مراد له اولولامر څخه امیران او سلاطین دي.
۲- دوهمه وجهه: دا ده چې آیت سر او اخر زموږ له خبرې سره نه لګېږي چې مراد له اولوالامر څخه اهل حل او عقد دی. د آیت په سر کې راغلی دی چې الله تعالی حکامو ته د اماناتو په ورکړه امر کړی دی او د عدل رعایت یې ور باندې واجب کړی دی. د دې آیت په اخر کې الله تعالی د ستونزې د حل له پاره د ستونزې حل له کتاب او سنت څخه غوښتی دی. دا له امیرانو سره جوړه راځي نه د اهل اجماع سره.
۳- دریمه وجهه: داد ه چې نبي علیه سلام، د امیرانو په طاعت ډېر ټینګار کړی دی. ویلي یې دي : من اطاعنی فقد اطاع الله و من اطاع امیری فقد اطاعنی ومن عصانی فقد عصی الله ومن عصی امیری فق عصانی . دا ؤ د سوال یو ممکن ځواب.
د سوال سم ځواب دا دی چې په دې کې نزاع نه شته چې یوې ډلې اصحابو او تابعینو له اولو الامر څخه علماء مراد کړي دي. نو کله چې موږ ووایو چې له اولوالامر څخه مراد اهل حل او عقد دی نو زموږ دا قول د امت له اقوالو څخه کوم خارج او وتلی قول نه دی او دا د لومړي سوال ځواب دی.
دوهم سوال په خپله مدفوع دی ځکه هغه وجوه چې دوی ذکر کړي دي ضعیف دي او هغه دلیل چې موږ ویلی دی هغه یو قاطع برهان دی. نو زموږ قول اولی دی ځکه چې موږ د دوی د ذکر شویو وجوهو مقابله په نورو وجوهو کولای شو چې دا نو وجوه قوي وجوه دي.
- لومړی وجهه دا ده چې د امیرانو او سلاطینو امر به هغو مواردو کې واجب الاطاعت دی چې د اما مور به امر کتاب اوسنت واجب کړی وي. چې په دې توګه د دې امر منل د الله او رسول د امر منل دي.
که امت په داسې یو حکم اجماع وکړي چې دا حکم په کتاب او سنت کې نه وي راغلی نو دا د امت اجماع ده او اجماع دریم شرعي دلیل دی.
- دوهمه وجهه دا ده چې که له آیت څخه دا مطلب واخیستل شي چې د امیرانو اطاعت واجب دی نو په دې صورت یو شرط ته اړتیا ده او هغه دا چې د امیر حکم منل په دې شرط واجب دي چې دا حکم حق وي.
- دریمه وجهه دا ده چې په دې آیت کې د الله دا قول: فان تنازعتم فی شی فردوه الی الله په دې دلالت کوي چې اجماع له دې تنازع څخه مقدمه ده یعنی چې دا متنازع فیه حکم به په کتاب، سنت او اجماع کې نه وي راغلي او اوس یې حل ته اړتیا پېښه ده، نو د دې حکم حل به په قیاس سره کېږي او د تنازع ستونزه به اوارولی شي.
- څلورمه وجهه دا ده چې د الله او رسول اطاعت قطعاً واجب دی او زموږ په نزد د اهل اجماع اطاعت قطعاً واجب دی، خو د امیرانو او سلاطینو اطاعت قطعاً واجب نه دی. بلکه ډېر ځله داسې هم کېدای شی چې د دوی اطاعت حرام وي ځکه چې دوی امر نه کوي مګر پر ظلم امر کوي چې ظلم ناحق دی او پر ناحق امر کول او اطاعت دواړه حرام دي.
نو که له ایت څخه اجماع واخیستله شي دا به ښه وي ځکه چې رسول الله او اولوالامر په یو لفظ کې راغلي دي هغه دا چې الله وایي: اطیعو الله واطیعو الرسول و اولی الامر منکم. نو که اولی الامر څخه معصوم رسول واخیستل شي دا به ښه وي له دې څخه چې فاسق فاجر امیر او سلطان ورڅخه واخیستل شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- پنځمه وجهه دا ده چې د امیرانو او سلاطینو اعمال د علماوو په فتواګانو پورې موقوف وي او علماء د امیرانو امیران دي نو ښه دا ده چې له اولی الامر څخه علماء مراد شي او معصومین امامان ور څخه نه شي اخیستل کېدای، ځکه چې د معصومینو اطاعت د دوی په پېژندلو پورې مربوط دی.
بله دا چې دوی ته ور رسېدل امکان ولري نو که د دوی اطاعت د دوی له معرفت څخه د مخه پر موږ واجب شي، دا تکلیف ما لایطاق کېږي. که د دوی اطاعت پر موږ واجب شي نو په دې صورت کې مطلق آیت مقید ګرزي.
دانه شي کېدای چې الله د اولولامر په اطاعت امر کړی دی او اولوالامر جمع ده او د دوی په نزد په یوه زمانه کې یو امام وي او پر مفرد باندې د جمع حملول یعني جمع څخه مفرد اخیستل دا له ظاهر څخه خلاف دی یعنی چې له جمع څخه مفرد نه شي اخیستل کېدی.
۴- څلورمه مسئله دا ده چې د الله قول چې وایي: فان تنازعتم فی شی فردوه الی الله ورسول .دا آیت زموږ په نزد دلالت کوي پر دې چې قیاس حجت دی او هغه چې پر دې خبره دلالت کوي دا قول دی: فان تنازعتم فی شی. له دې قول څخه به مراد دا وي چې هغه حکم چې په کتاب سنت او اجماع کې راغلي وي او یا به مراد هغه حکم وي چې منصوص علیه نه وي.

د دویم برخی پای

ادامه لری

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ